بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

(۵۵) ګڼه غویی ۱۴۰۴:شماره (۵۵) ثور ۱۴۰۴:صفحه اول:لومړی مخ

اونیزه راستنېدنه
هفته نامه عودت



امارت اسلامی به مشکلات مردم توجه دارد و با توجه به امکانات موجود در جستجوی راه های حل آن خواهد بود.
مولوی عبدالکبیر سرپرست وزارت امور مهاجرین وعودت کننده گان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر په کابل کې د اسلامي همکاریو د سازمان له سفیر ښاغلي محمد سعید العیاش سره وکتل



په دې ناسته کې له افغان کډوالو سره پر مرسته کولو او د یو شمېر عام المنفعه پروژو په هکله خبرې وشوې، ښاغلي العیاش د اسلامي امارت له لوري د افغان کډوالو د راروانې لړۍ د ښه مدیریت ستاینه وکړه او وې ویل، چې له کډوالو سره ناسم چلند او اجباري ایستلو یې د اسلامي همکاریو سازمان خواشینی کړې دی.

ښاغلي سفیر زیاته کړه، چې د اسلامي همکاریو سازمان له کډوالو سره د مرستو راجلبولو ته کار کوي او هیله یې څرګنده کړه، چې د یاد سازمان غړي هېوادونه د افغان مهاجرینو لاس نیوی ته ځانګړی پام وکړي.

نوموړي په افغانستان کې د یاد سازمان لخوا د لاډېرو عام المنفعه پروژو د پلي کېدو په برخه کې د خپلو هڅو یادونه وکړه او زیاته یې کړه، چې د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت په همغږۍ او د پروان ولایت د سالنګ ولسوالۍ د سیمه ییزې اداري او ولس د وړاندیز پر بنسټ د یوه جامع جومات جوړولو ته مالي امکانات لټوي، چې په یو وخت به د ښځینه وو په ګډون د شمالي ولایتونو د لویې لارې ۳۵۰۰ مسافرو ته د اوداسه او لمانځه سهولت او مناسب ځای ولري.

نوموړي تمه څرګنده کړه، چې د یادې پروژه د عملي چارو د پیل لپاره به هم د نورو هغو پخوانیو په څېر مالي امکانات چمتو شي.

د ناستې پر دوام محترم مولوي عبدالکبیر په کابل کې د اسلامي همکاریو د سازمان سفیر ته ښه راغلاست وویل او په بېلابېلو برخو کې یې له افغانانو سره د یاد سازمان له همکاریو او مرستو مننه وکړه.

محترم وزیر له اسلامي نړۍ سره د اسلامي امارت تعامل او اړیکې خورا ارزښتمنې وبللې او یادونه یې وکړه، چې د اسلامي همکاریو سازمان د اسلامي هېوادونو تر منځ د اړیکو لپاره غوره او مهم بنسټ دی.

محترم مولوي عبدالکبیر د کډوالو د دایمي ستونزو حل لپاره د مهاجرینو د استوګنیزو ښارګوټو په رغولو ټېنګار وکړ او په دې برخه کې د اسلامي همکاریو د سازمان په ګډون د ټولو مرستندویه ادارو د همکارۍ او مرستې غوښتنه وکړه.

د ناستې په پای کې محترم مولوي عبدالکبیر یو شمېر عام المنفعه پروژو ته په اشارې سره وویل، چې د ولس ستونزو ته رسیدنه د اسلامي امارت لومړیتوب دی او په دې برخه کې یې د اسلامي همکاریو د سازمان د مرستو او ملاتړ د دوام غوښتنه وکړه.

## وزیر امور مهاجرین با معین وزارت زراعت، آبیاری و مالداری دیدار نمود



محترم مولوی عبدالکبیر، وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان، با مولوی صدر اعظم، معین وزارت زراعت، آبیاری و مالداری، دیدار نمود.

در این دیدار سفر اخیر هیئت امارت اسلامی به ریاست آقای عثمانی به کشور جمهوری اسلامی ایران و وضعیت مهاجرین افغانستان در آن کشور مورد بحث و بررسی قرار گرفت.

آقای عثمانی جزئیات سفر خود با مهاجرین افغانستان مقیم ایران و راهکارهای پیشنهادی برای حل مشکلات مهاجرین را با وزیر امور مهاجرین در میان گذاشت و افزود: مقامات ایرانی بر گفتگوها و دیدارهای مکرر در مورد مهاجرین و سایر موضوعات دوجانبه تاکید کرده و از همکاری شان با دولت افغانستان در توزیع اسناد لازم برای مهاجرین افغان مقیم در ایران، اطمینان دادند.

محترم مولوی عبدالکبیر سفر اخیر هیئت امارت اسلامی به ایران را سودمند دانست و تصریح کرد: امارت اسلامی حل مشکلات مهاجرین را در اولویت قرار داده است و تلاش می شود تا مشکلات آنان را از هر طریق ممکن حل و فصل کند.

به گفته وی امارت اسلامی چندین بار با مقامات ایرانی دیدار کرده و در رسیدگی به مشکلات مهاجرین افغان در آن کشور و ایجاد یک میکانیزیم پیشرفت هایی نیز حاصل شده است.

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د اهل تشیع له یو شمېر مشرانو او علمای کرامو سره وکتل



د ناستې په پیل کې د حاضرو مخورو او علماوو په استازولۍ استاد محمد اکبري د ولسونو د ستونزو د حل په برخه کې د محترم مولوي عبدالکبیر له هڅو ستاینه وکړه او ویې ویل، اهل تشیع علماء او مخور له اسلامي امارت سره همکاریو ته ژمن دي او له اسلامي نظام څخه ملاتړ کوي.

دغو علماوو او مخورو زیاته کړه، چې د امریکا او غرب د اشغال له امله هېواد له ګڼو ستونزو سره مخ شوی او یادونه وشوه چې افغانان باید په ګډه د افغانستان په ابادۍ او د ننګونو په حل کې خپل مسوولیت ترسره کړي.

د ناستې پر دوام د اهل تشیع علمای کرامو وویل، چې دښمن هڅه کوي د منفي تبلیغ په کولو سره د هېواد حالت ناسم وښيي او اختلاف ته لمن ووهي.

حاضرو مخورو او علمای کرامو د خپلو خبرو پر دوام د یو شمېر مسایلو په هکله خپل نظرونه، مشورې او وړاندیزونه له محترم مولوي عبدالکبیر سره شریک کړل او همدارنګه هغوي په ځینو برخو کې د شته ستونزو د حل غوښتنه وکړه.

محترم وزیر په خپلو خبرو کې د اهل تشیع مشرانو او علماوو ته ښه راغلاست ووایه او په افغانستان کې یې مېشتو قومونو ته په اشارې سره، په ټولنه کې د اهل تشیع د مشرانو او علمای کرامو مقام مهم یاد کړ.

د ناستې پر دوام محترم مولوي عبدالکبیر، له اسلامي نظام سره د اهل تشیع مشرانو او علماوو همکارۍ وستایلې او زیاته یې کړه، چې د اسلامي امارت ټولې اداري د هغوی په چوپړ کې دي.

همدارنګه محترم وزیر یادونه وکړه، چې اسلامي امارت هر وخت د ولس غږ اورېدلی او په هره کچه چې اړتیا وي د اهل تشیع ولس د ستونزو حل ته اقدام شوی.

د ناستې په پای کې محترم مولوي عبدالکبیر راغلو مشرانو ته ډاډ ورکړ چې پر وړاندیزونو به یې غور وشي.

## والی ولایت پکتیا، با وزیر امور مهاجرین، ملاقات نمود



مولوی مهرالله حماد، والی ولایت پکتیا، با محترم مولوی عبدالکبیر وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان، ملاقات نمود.

آقای حماد در مورد پیشرفت کار در شهرک تعیین شده برای مهاجرین در پکتیا به وزیر مهاجرین توضیح داده افزود: کار روی شهرک در ولایت پکتیا تکمیل شده و به زودی افتتاح خواهد شد.

وی همچنین کمک به مهاجرین درآن ولایت و فراهم کردن امکانات لازم در کمپ های موقت اشاره کرده

و پیشنهاد نمود که برای بازسازی خانه های برخی از مستمندان کمک شود.

محترم مولوی عبدالکبیر از تلاش های مقامات امارت اسلامی درعرصه کمک به مهاجرین افغان و ارائه تسهیلات به آنان قدردانی کرد و افزود که توزیع زمین در شهرک ها بسیاری از مشکلات مهاجرین را حل می کند.

وزیر امور مهاجرین گفت: امارت اسلامی تلاش‌های خود را برای بازسازی شهرک های مهاجرین آغاز کرده است و انتظار می‌رود که سازمان‌ها و مؤسسات امدادی نیز در این زمینه کمک های لازم را انجام دهند.

**د کډوالو او راستنېدونکیو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر په جلاجلا ناستو کې د لوګر د محمد اغې ولسوالۍ له یو شمېر ډلګۍ مشرانو او د بغلان ولایت له څو تنو قومي مخورو سره وکتل**



په پیل کې د محمد اغې ولسوالۍ ډلګۍ مشرانو د اسلامي امارت په جوړښتونو کې خپلو مسوولیتونو ته په اشاري سره وویل، چې له ولسونو سره په اړیکه کې دي او د اسلامي نظام د قوت لپاره د خلکو په همکارۍ کار کوي .

دغو ډلګۍ مشرانو په لوګر کې د مېشتو مهاجرینو د ستونزو او وراندېزونو په شریکولو سره، د کډوالو د دایمي استوګنې لپاره د ځمکو د ویش غوښتنه وکړه.

همدارنګه له بغلان څخه راغلو قومي مخورو په خپلو سیمو کې د اسلامي امارت لخوا د څښاک اوبو چمتو کولو او د کډوالو لپاره د ځانګړو شویو ښارګوټو اړوند خپل وړاندېزونه له محترم وزیر سره شریک کړل.

محترم مولوي عبدالکبیر راغلو مخورو او مشرانو ته د ښه راغلاست پر مهال د اسلامي امارت لخوا د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې یادونه وکړه او ویې ویل، چې اسلامي نظام د مهاجرینو لپاره د اړینو اسانتیاوو په موخه عالي کمېسیون رامنځته کړی او اړوندو ادارو ته دندې سپارل شوې چې د کډوالو د لنډمهاله ستونزو تر څنګ ورته ښارګوټي جوړ او پراختیایي چارې یې مخکې بوځي .

نوموړي وویل، چې د ښارګوټو چارې په چټکۍ سره رواني دي او په نږدې راتلونکې کې به په یو شمېر نورو ولایتونو کې هم د مهاجرینو ښارګوټي پرانیستل شي.

محترم وزیر زیاته کړه، چې د مهاجرینو له عالي کمېسیون سره په همغږۍ به شویو وړاندېزونو ته رسېدنه وشي.

**شماری از کارکنان وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان، با معین مالی واداری این وزارت، دیدار نمودند**



شماری از کارکنان ریاست های مرکزی وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان، با محترم شیخ کلیم الرحمن فانی، معین مالی و اداری این وزارت، دیدار نمودند.

این دیدار که در دفتر معین مالی و اداری صورت گرفت؛ آنان کارکرد، فعالیت و دستاورد های خویش را با محترم فانی شریک ساخته و در موارد متعددی مشکلات کاری شان را نیز بیان کردند.

محترم فانی با قدردانی از کارکرد آنان و بعد از استماع نظرها وپیشنهادهای مشکلات شان را شنیده و از حل آن اطمینان داد.

**پکتیا: د راستنو شویو مهاجرینو لپاره د «دارالقرار» په نوم د ۱۰۰ کورونو جوړولو د بنسټ ډبره کېښودل شوه**



د قطر سرې میاشتې په ملاتړ او د یو شمېر قطري میرمنو په مالي مرسته، د پکتیا ولایت مرکز ګردېز، رباط د مهاجرینو ښارګوټي کې د راستنیدونکو مهاجرینو لپاره د «دارالقرار» په نوم د ۱۰۰ بابه کورونو، مسجد، مدرسه، ښوونځي او تفریحي پارک جوړولو پروژه د یو لړ مراسمو په ترڅ کې پرانستل شوه.

په دغو مراسمو کې د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبد السلام حنفي، د کور او ښار جوړولو وزیر مولوي حمدالله نعماني، د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مالي او اداري مرستیال شیخ کلیم الرحمان فاني، د اسلامي امارت نورو لوړپوړو چارواکو، د قطر سرې میاشتې استازو، د پکتیا ولایتي مسوولینو او یو شمېر ځایي مشرانو او اوسېدونکو ګډون درلود.

په یاده غونډه کې ویناوالو د دې پروژې پر اهمیت ټینګار وکړ او دا یې د مهاجرینو د پایداره ادغام لپاره یو مثبت اقدام وباله.

په ناسته کې مولوي ذاکرالله ذاکر د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو د وزیر محترم مولوي عبدالکبیر پیغام ولوست، نوموړي د قطر هېواد له خلکو او حکومت مننه وکړه او له ټولو خیریه بنسټونو یې وغوښتل، چې د راستنو شویو مهاجرینو د ستونزو بنسټیز حل لپاره د ښارګوټو په ودانولو کې ونډه واخلي ښاغلي ذاکر ټینګار وکړ، چې اسلامي امارت له ګاونډیو هېوادونو سره د مثبتو اړیکو غوښتونکی دی او دا چې د مهاجرت موضوع بشري ده نو له سیاست سره باید ونه تړل شي.

د مهاجرینو چارو وزارت مالي او اداري مرستیال شیخ کلیم الرحمان فاني په خپلو خبرو کې له مهاجرینو سره ناوړه چلند د ټولو اسلامي او انساني اصولو خلاف وباله او له ولسونو یې وغوښتل چې هرڅوک دې د خپل توان مطابق د راستنو شویو مهاجرینو لاسنیوی وکړي

د یادونې وړ ده چې دا کورونه به له اساسي اړتیاوو لکه پخلنځي، اوبو، او تشنابونو سره مجهز وي، څو تازه راستنې شوې کورنۍ وکولای شي د یوه عزتمند ژوند پیل وکړي.

**رییس مهاجرین ولایت فراه با معین مالی واداری وزارت امور مهاجرین، ملاقات نمود**



مولوی حذیفه، رییس مهاجرین ولایت فراه، با شیخ کلیم الرحمن فانی، معین مالی واداری وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، ملاقات نمود.

این ملاقات که در دفتر کاری محترم فانی صورت گرفت، رییس مهاجرین فراه کارکرد و فعالیت خویش را با معین مالی وادری وزارت شریک نموده و در شماری از موارد مشکلات در عرصه های مختلف آن اداره را نیز بیان داشت که از جانب محترم فانی در حل آن اطمینان داده شد.

**نشستی برای حل مشکلات عودت کنندگان در ولایت سمنگان برگزار شد**



نشستی بر ریاست معاون والی سمنگان و با حضور نماینده های ادارات ذیربط حکومتی برای حل مشکلات مهاجرین و عودت کنندگان ، در مقام آن ولایت برگزار شد.

ملا داد خدا خادم معاون والی سمنگان مشکلات و راه حل های مهاجران را مورد بحث و بررسی قرار داده گفت: فضل و احسان الهی موقوف به خیرخواهی ما برای بندگان الهی است.

سپس روسای ادارات در مورد رسیدگی به مشکلات مهاجرین اظهار نظر نموده و در اخیر معاون والی از حاضرین خواست تا در راستای رسیده گی به مشکلات مهاجرین همکاری های همه جانبه صورت گیرد.

**د کډوالو اتشې د پاکستان په پنجاب ایالت کې د مهاجرینو د راټولونې له مرکز څخه لیدنه وکړه**




د پاکستان په اسلام‌آباد ښار کې د افغان کډوالو اتشې او ور سره مل پلاوي او په پاکستان کې د افغانستان سفارت په همکارۍ د افغان مهاجرینو د شکایتونو په پام کې نیولو او د ستونزو د حل په موخه د پنجاب ایالت د اټک ولسوالۍ د مهاجرینو د راټولونې له مرکز څخه لیدنه وکړه.

د کډوالو اتشې آصف خان ځدران د دې مرکز له مسوولینو سره خبرې وکړې او د افغان مهاجرینو د ستونزو د سمدستي حل غوښتنه یې وکړه.

نوموړي له هغو مهاجرینو سره هم خبرې وکړې، چې د سرحدي اخراج لپاره په دې مرکز کې راټول شوي

وو. د هغـوی غوښـتنې یـې واورېـدې، اړینـې لارښـوونې یـې وکړې او ډاډ یـې ورکـړ، چـې د مهاجرینـو د باعزتـه او تدریجـي راسـتنېدو پروسـې څارنـه د ګـډ کاري کمېټـې پـه لومړیتوبونـو کـې ده.
هغـه د مهاجرینـو د ستونزو د حـل پـه موخـه د لویـو لارو پـه اوږدو کـې د کمېټـې د اړیکـو شـمېرې هـم لـه هغـوی سره شریکـې کـړې. د کډوالـو اتشـې د پنجـاب ایالـت د اټـک ولسـوالۍ لـه لوړپـوړو مسـوولینو سره هـم لیدنـه وکـړه، د ستونزو پـه اړه یـې بحـث وکـړ او د حـل غوښـتنه یـې وکـړه. د اټـک ولسـوالۍ امنیتـي مسـوولینو ډاډ ورکـړ، چـې دوی بـه هیـڅ یـوه کارکوونکـي تـه اجـازه ور نـه کـړي، چـې لـه مهاجرینـو سره ناسـم چلنـد وکـړي او هغـه مسـوولین، چـې د مهاجرینـو پـه آزار او اذیـت کـې ښـکېل وي، مجـازات بـه شي.
یـاد پـلاوي خپـل راپـور د افغانسـتان لـه سـفارت سره شریک کـړ او مهـم ټکـي یـې د پاکسـتان بهرنیـو چـارو وزارت تـه واسـتول، ترڅـو د پاکسـتان د امنیتـي ادارو د ځینـو کړنـو د اصـلاح او مخنیـوي پـه اړه بیـا کتنـه وشي او د مهاجرینـو د باعزتـه او تدریجـي راسـتنېدو لپـاره پـه خونـدي ډول د تطبیـق زمینـه برابـره شي.

## بـرای بیـش از ۱۰۰ تـن در ولایـت تخـار، افـزار کاری توزیـع شـد



بـرای ۱۷۰ تـن فارغـان بخـش هـای حرفـوی، در ولایـت تخـار، بتاریـخ ۱۵ ثـور افـزار کاری توزیـع شـد.
افـراد مذکـور مـدت ۴ مـاه در بخـش هـای نجـاری، خیاطی، نلدوانـی، ترمیـم موبایـل، موتـر و موتـر سـایکل آمـوزش هـای فنـی را از جانـب نهـاد همـکار ایـن وزارت فـرا گرفتـه بودنـد بـا اخـذ تصدیـق نامـه افـزار کاری را در بخـش هـای یـاد شـده دریافـت نمودنـد.

## پـه بغـلان ولایـت کـې دوه عـام المنفعـه پـروژې ګټـې اخیسـتنې تـه وسـپارل شـوې



د بغـلان ولایـت د مرکـزي بغـلان پـه ولسـوالۍ کـې عـام المنفعـه پـروژې د مهاجرینـو چـارو رییـس او محـلي خلکـو پـه حضـور کـې ګټـې اخیسـتنې تـه وسـپارل شـوې.
یادې پروژې په لاندې ډول دي:
۱. د تیموریانـو بـالا سـیمه کـې د یـوې ژورې څـاه کینـدل، چـې د سـولري سیسـتم، د اوبـو زېرمـه او نـورو اړونـدو تاسیسـاتو سره مجهـزه ده. دا پـروژه د اوسـیدونکو د پاکـو اوبـو سـتونزه حـل کـوي.
۲. د بغـلان مرکـزي ولسـوالۍ د ګجرآبـاد سـیمه کـې د سېلاب د مخنـوي پـه موخـه یـو پلچـک پـه پاخـه او اسـاسي ډول رغـول شـوی. دا پـروژه د ګجرآبـاد او شـاوخوا کلیـو د ۹۰۰ کورنیـو د تـګ راتـګ سـتونزه حـل کـوي او دوی تـه د عمومـي سـړک او بـازار تـه د لاسرسي اسـانتیاوې برابـروي.
دا دواړه پـروژې د وزارت د همـکارې بنسـټونو لـه لـوري، د دولتـي سـکتوري ادارو د همغـږۍ او څارنـې او د مهاجرینـو چـارو وزارت سره د شـوې هوکړه‌لیـک پـر اسـاس، د ۱۰ زره امریکایـي ډالـرو پـه لګښـت پلـې او عملـي شـوي دي.

## در ولایـت کنـدز، کمـپ موقـت بـرای برگشـت کننـده گان اجبـاری ایجـاد شـد



کار سـاخت کمـپ موقـت بـرای پذیرایـی از خانـواده هـای برگشـت کننـده اجبـاری کشـور هـای همسـایه کـه سرپنـاه ندارنـد، در ناحیـه پنجـم محـل سر دوره شـهر کنـدز، آغـاز شـد.
آغـاز کار کمـپ یـاد شـده بـا هماهنگـی والـی، شـماری از ادارات محلـی آن ولایـت و ادارات شـامل کمیتـه رسـیدگی بـه مشـکلات مهاجریـن میباشـد جریـان دارد.

## پـه بادغیـس ولایـت کـې همـکارو بنسـټونو سره د همغږۍ غونډه وشـوه

د بادغیـس ولایـت د کډوالـو امـر الحـاج مولـوي نیـک محمـد خبیـب او د واسـا او وارچایلـډ بنسـټونو مسـوولینو ترمنـځ د همغـږۍ غونـډه وشـوه.
پـه دې ناسـته کـې د بادغیـس ولایـت پـه بېلابېلـو ولسـوالیو کـې د راسـتنېدونکو او داخـلي بې‌ځایـه شـویو کسـانو د سـتونزو پـه اړه بحـث او نظرونـه تبادلـه شـول او د پـروژو د پـلي کولـو پـه اړه اړینـې پرېکـړې وشـوې.

## نشسـت هماهنگـی بـا یـک سـازمان همـکار در ولایـت سرپـل برگـزار شـد



نشسـت هماهنگـی میرعبدالسـلام هاشـمی آمـر مهاجریـن ولایـت سرپـل بـا آقـای رابـرت اینزیکـوا مسـوول انجمـن مهاجریـن نـاروی در زون شـمال کشـور، برگـزار شـد.
آقـای رابـرت اهـداف سـفر بـه سرپـل را نظـارت از پـروژه هـای شـامل ترمیـم سرپنـاه، پرداخـت کرایـه خانـه، آب آشـامیدنی و بهداشـت بیـان داشـت.
پـروژه هـای مذکـور در سـال ۲۰۲۵ در ولسـوالی کوهسـتانات سرپـل آغـاز شـده آنهـا در تطبیـق پـروژه هـا بـرای عـودت کننـدگان و بیجاشـدگان داخلـی از آمریـت امـور مهاجریـن خواسـتار همـکاری شـدند.
آمـر مهاجریـن از کارکـرد انجمـن مهاجریـن نـاروی قدردانی نمـوده گفـت: مهاجریـن کـه از پاکسـتان و ایـران بـاز مـی گردنـد بـا فقـر، بـی خانمانـی و مشـکلات دیگـر روبـرو هسـتند.
وی از سـازمان هـای همـکار خواسـت تـا بـه مهاجریـن سرپـل توجـه بیشـتری کننـد.
آمـر امـور مهاجریـن متعهـد شـد کـه بـرای حـل مشـکلات مهاجریـن در چارچـوب قوانیـن امـارت اسـلامی بـا سـازمان هـا همـکار همـکاری کامـل خواهـد داشـت.
مسـوولان انجمـن مهاجریـن نـاروی همچنیـن متعهـد بـه ارائـه خدمـات و جـذب کمـک هـای بشردوسـتانه شـدند.

## پـه کنـدز ولایـت کـې د مسـلکي زده کـړو فارغانـو تـه د کار وسـایل ورکـړل شـول




د کنـدز ولایـت د امـام صاحـب ولسـوالۍ او د ولایـت پـه مرکـز کـې ۲۰۶ راسـتنېدونکو کسـانو تـه د کار وسـایل وویشـل شـول.
یـادو کسـانو لـه دې وړانـدې د خیاطـۍ، نجارۍ، فلـزکارۍ، د موبایـل ترمیـم او نـورو برخـو کـې تخنیکـي زده کـړې ترلاسـه کـړې وې، چـې د کـورس لـه پـای تـه رسـېدو وروسـته یـې د دې وزارت د همـکارې ادارې لـه لـوري د کار وسـایل ترلاسـه کـړل.

## پـه پکتیـکا ولایـت کـې د مهاجرینـو ښـارګوټي پرانیسـتل شـو




د پکتیـکا ولایـت پـه مرکـز ښـرنه کـې د راسـتنېدونکو کډوالـو لپـاره د اسـتوګنې ښـارګوټي پرانیسـته غونـډه وشـوه.
پـه دې مراسـمو کـې د رئیس‌الـوزرا مـالي او اداري مرسـتیال مولـوي عبدالسـلام حنفـي، د کـور او ښـار جوړولـو وزیـر مولـوي حمداللـه نعمـاني، د پکتیـکا والي مـلا عبدالخالـق عابـد، مرسـتیال والي مخـدوم عبدالسـلام سـعادت او یـو شـمېر نـورو چارواکـو او قومـي مشرانـو ګـډون درلـود.
مولـوي عبدالسـلام حنفـي، پـه خپلـو خبرو کـې وویـل، چـې ۳۵۰۰ جریبـه ځمکـه د کډوالـو لپـاره ځانګـړې شـوې، چـې پـه پـوره روڼتیـا بـه ورتـه وویشـل شي.
د پکتیـکا والي وویـل: دا ښـارګوټی د ښـرنې ختیـځ لـوري تـه پـه ۵ کیلومـترۍ کـې جـوړ شـوی او ټولـو کډوالـو تـه بـه پکـې حقـوق ورکـړل شي. د کـور او ښـار جوړولـو وزیـر وویـل، هـرې کورنـۍ تـه د غـړو د شـمېر لـه مخـې ځمکـه ورکـول کېـږي. د یـاد ولایـت د کډوالـو رییـس مولـوي حمداللـه فاتـح وویـل، تـر اوسـه ۲۱۰۸ کورنـۍ ثبـت شـوې او لومړنـۍ اړتیـاوې یـې پـوره شـوې دي.